

د معلولیت لرونکو وګړو د نړیوالې ورځې په اړه د مبارکۍ پیغام!

ټولو پیاوړو معلولیت لرونکو وګړو ته د دوی د نړیوالې ورځې یا د دېسمبر د دریمې مبارکي وایم!

معلولیت لرونکي وګړي زموږ د ټولنې پیاوړی او د قدر وړ قشر دی، له وړتیاوو یې باید په ټولو برخو کې سالمه ګټه واخیستل شي، تر څو دوی ته د ټولنیز مشارکت او زده کړو زمینه برابره شي. دا د ټولو دولتي او غیر دولتي ادارو او بنسټونو مسوولیت دی، چې په دې برخه کې فعاله ونډه واخلي او معلولیت لرونکو وګړو ته د خدمت مصدر وګرځي.

د معلولیت لرونکو وګړو نړیواله ورځ د معلولیت لرونکو وګړو د سیاسي، ټولنیز، فرهنګي مشارکت اقتصادي پیاوړتیا په موخه په ټوله نړۍ کې نمانځل کېږي او د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت ژمن دی، چې دغو موخو ته د رسېدو لپاره دا ورځ ونمانځي.

د دې وزارت اړوند ټول ولایتي آمریتونه باید دا ورځ ونمانځي او له ټولو دولتي او غیر دولتي ادارو غوښتنه کوو، چې په ښه ډول یې نمانځنه وکړي. د دې تر څنګ ټولې دولتي او غیر دولتي ادارې باید خپل هغه معلولیت لرونکي کارکوونکي، چې غوره فعالیتونه یې ترسره کړي، تقدیر او ونازوي.

په درنښت

لعل الدین آریوبي

د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزیر